# د خیبر پښتونخوا پولیسو په هدفي وژنو کې ککړ دوه نور ترهګر وژلي

لوئردیر تیمرګرد کښي د خفیه اطلاع په بنیاد د پولیس او سي تي ډي ګډ عملیات شوي دي۔ دپولیسو په هدفي وژنو کې ککړ دوه مطلوب ترهګر وژل شوي دي۔




**تفصیلاتو له مخې د ترهګرو د موجودیت په اړه د اطلاع په ترلاسه کولو سره پولیس او سي تي ډي د ترهګرو محاصره وکړه چې په ځوابي ډزو کې ترهګر حفیظ الله ولد شیرین او برهان الدین ولد جان ولي وژل شوي۔ دواړه ترهګر د ټرافیک واردن بخت زمان د هدفي وژنې په ګډون په ګڼو ترهګریزو فعالیتونو او پر پولیسو په بریدونو کې لاس درلود۔**

دا په دے وروستیو ورځو کې دویمه پېښه ده چې د پولیسو په هدفي وژنو کې ککړ ترهګر له منځه وړل شوي۔ ټول امنیتي اداري او د سیمې خلک په ګډه د ترهګرۍ له منځه وړلو ته چمتو دي او ترهګر په دوامداره توګه له مرګ ژوبلې سره مخ دي۔